پۀ دیني خدماتو کښې د دعوت اسلامي د مسلسل جد و جهد 43 کاله پوره کېدو باندې خصوصي رساله

# فيضانِ دعوتِ اسلامي



پیشکش: مجلس ماهنامه فیضانِ مدینه (دعوت اسلامي)

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ؕ

# د دعوتِ اِسلامي "د جشن ورځ ده کور پهٔ کور"

(۲۳ محرم الحرام ۱٤٤۳ ھ/1-9-2021)

از : شیخ طریقت، امیرِ اهلِسُنَّت علّامه مولانا ابو بلال محمد الیاس عطّار قادري رضوي دامت برکاتہم العالیه

يومِ دعوتِ اسلامی کا جشن ہے گھر گھر
مصطفٰے کے دیوانے، کیوں نہ جھومیں خُوش ہو کر

ہم کو دعوتِ اسلامی کا ہے دیا ماحول
تیرا شُکر ادا کیوں کر، ہو خُدائے بحَر و برَ!

آؤ دعوتِ اسلامی پلائے گی پیاسو!
اُلفتِ محمد کے، خوب جام بھر بھر کر

سیکھو آ کے قرآں تم اور نَماز پڑھنا تم
آ کے دعوتِ اسلامی میں پاؤ رب کا ڈر

حج کا جذبہ ملتا ہے، ذوقِ طیبَہ بڑھتا ہے
لے لو دعوتِ اسلامی میں آ کے یہ گوہر

واسِطہ تجھے مولیٰ! سبز سبز گنبد کا
آل اور صَحابہ کا، عشق تو عنایَت کر

جس کو دعوتِ اسلامی خُدا نے دی عطّار
خُوش نصیبی ہے اُس کی ہے بڑا وہ بَختاوَر

## د رضا د خوب يو تعبير ”دعوتِ اِسلامي“

(د دعوتِ اِسلامي د مرکزي مجلسِ شورىٰ نګران مولانا محمد عمران عطاري مدظلہ العالی)

يو څو کاله مخکښينۍ خبره ده، د هندوستان يو لوئي عالِمِ دِين عالمي مَدَني مرکز فيضانِ مدينه (کراچۍ، پاکستان) ته تشريف راوړلو، چې کله په پوړو راوختو او هغوئي د فيضانِ مدينه په فراخه دالان کښې قدم کيښودو او د عالمي مَدَني مرکز وداني او د عاشقانِ رسول ګڼه شميره يې وليدله نو په درديدلي زړه يې يو سوړ اسويلے وکړو او اوئي فرمائيل: **امامِ احمد رضا خان** رحمۃ اللہ علیہ **چې د دِين د خِدمت کوم خوب ليدلے وو، نن زۀ په غړيدلو سترګو د هغې تعبير وينم.**

کیوں رضا آج گلی سونی ہے اُٹھ مرے دُھوم مچانے والے

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونو!** د اِمامِ اهلِسُنَّت رحمۃ اللہ علیہ دا خوب څۀ وو؟ په **15 جُمادَي الاُخرىٰ 1330ھ** د يوې استفتاء په جواب کښې اعلىٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ د **اَهلِ سُنَّت و جماعت** د بقا او فلاح د پاره ”**10** نکتے“ ارشاد وفرمائيلے:

**(1)**: عظيمُ الشانه مدرسے دې جوړې کړے شي، باقاعده دې تعليمونه وي **(2)**:طالبِ علمانو ته دې وظيفې ورکړے شي چې هغوئي [دي طرفته]مائله وي **(3)**:استاذانو ته دې معقول تنخواګانې د هغوئي په کارکردګۍ ورکړے شي چې د لالچ نه بنه کوشش کوي. **(4)**: د طالبِ علمانو د صلاحيتونو دې اندازه اخستلے کيږي، کوم طالبِ علم چې په کوم کار کښې زيات مناسب وي، د معقول وظيفې ورکولو سره دې په هغه کار کښې

ولګولے شي. داسې دې پهٔ هغوئي کښې ځوک مدرسين جوړ کړے شي، ځوک دې وعظ کوونکي، ځوک دې ليکوال، ځوک دې مناظرين، بيا دې پهٔ ليکلو او مناظره کښې هم تقسيم کاري وي، ځوک دې پهٔ يو فن کښې ځوک دې پهٔ بل فن کښې. **(5)**: پهٔ هغوئي کښې چې کوم تيار شي، هغوئي دې پهٔ ملک کښې خوارهٔ کړے شي چې د ليکلو او تقريرونو او وعظ او مناظرو پهٔ ذريعه دِين او مذهب خور کړي. **(6)**: ليکوالو ته دې نذرانے ورکړے شي او د مذهب د حمايت او د بد مذهبو پهٔ رَد کښې دې فائده مند کتابونه او رسالې وليکلے شي. **(7)**: ليکلے شوي کتابونه او نوې ليکلے شوې رسالے دې پهٔ ښه طريقه باندې چاپ کړے شي او پهٔ ټول ملک کښې دې مفت تقسيم کړے شي. **(8)**: پهٔ هر ښار کښې دې ستاسو سفير نګران موجود وي، چرته چې د کوم قِسمه واعظ يا مُناظِر يا تصنيف حاجت وي تاسو ته دې اطلاع درکوي. تاسو د خپلو دښمنانو د رد د پاره خپل فوځونه، ميګزين رسالے ليږئ. **(9)**: پهٔ مونږ کښې چې کوم د کار قابل موجود دي او پهٔ خپلو کارونو کښې مصروف دي، هغوئي له دې تنخواګانې ورکړے شي او خوشحاله دې کړے شي، او پهٔ کوم کار کښې چې هغوئي مهارت لري پهٔ هغې کښې دې ولګولے شي. **(10)**: ستاسو دې يو مذهبي اخبار (Religious Newspaper) چاپ کيږي او وخت پهٔ وخت دې د هر قِسمه د مذهب پهٔ حمايت کښې مضامين پهٔ ټول ملک کښې پهٔ قيمت او بغير د قيمت نه روزانه يا کم از کم هفته وار رسولے کيږي. (فتاوىٰ رضويه.29/599)

د امامِ اهلِسُنَّت پهٔ دې لسو نکتو باندې د مشتمل خوب عملي کولو د پاره علمائے حق اهلِسُنَّت پوره کوشش کړے دے او اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي هم د دې نکتو عملي کولو د پاره کوشش کړے دے. راځئ چې د دې نکتو پهٔ رڼا کښې د دعوتِ اِسلامي د خدماتو مختصر جائزه واخلو.

**(1): عظيمُ الشَّان مَدارِس:** د عِلمِ دِين خپرولو د پاره د هلکانو او جينکو د عالمِ دِين جوړولو د پاره د 1425 جامعةُ الـمدينه، ناظرې او حفظِ قرآن د تعليم د پاره 15048 مدرسة الـمدينه او د دِيني او عصري تعليم د پاره 163 دارُ الـمدينه جوړ کړے شوي دي پۀ کومو کښې چې پۀ زرګونو نارينه او زنانه طالبِ علمان عالمِ دِين جوړ شوي دي او پۀ زرګونو جوړيږي، داسې پۀ لکونو هلکانو او جينکو حفظ او ناظره کړې ده او پۀ زرګونو پکښې تعليم حاصلوي. صرف دا نۀ بلکې پۀ کم عمرۍ کښې د عِلم نه د محرومه پاتې کيدونکو د پاره د 68 زره 97 نه زيات مَدارِسُ الـمدينه (بالغان و بالغات) او د آن لائن لوستلو خواهش لرونکو د پاره پۀ لوئي کچ د بيل آن لائن حفظ او ناظرې او عالم کورس کولو سهولت ورکړے شوے دے.

**(2): طالبِ علمانو ته وظيفے:** تر څو پورې چې طالبِ علمانو ته د وظيفو معامله ده نو اوسيدونکو طالبِ علمانو ته د معياري خوراک څښاک او د اوسيدو بهترين او طِبي سهولتونه حاصل دي او د تخصص في الفقه، تخصص في الدعوة، تخصص في الحديث، تخصص في اللغات او نورو تخصصاتو [يعني سپيشلائزيشن] کوونکو ته باقاعده معقول وظيفه هم ورکولے شي.

**(3): اُستاذانو ته تنخواګانې:** که د مُدرسينو [يعني استاذانو] د مراعاتو جائزه واخستے شي نو د جامعاتُ الـمدينه او د مدارسُ الـمدينه استاذانو ته د مياشتې د معقول تنخوا ورکولو سره سره پۀ رَمَضَانُ المُبَارَک کښې بونس او د مقرر شوو چهټيانو نۀ کولو په صورت کښې هرې شپږ مياشتې پس leave Encashment هم ورکولے شي. دومره نۀ بلکې د ممتاز، بهترې او مناسبې درجه بندۍ پۀ لحاظ سره هر کال اضافه (Increment) هم کيږي او د ټاکلے شوې مودې پۀ حساب سره ګريډ او تنخوا هم زياتولے شي. د دې

سره سره د **مجلسِ طِبّي علاج** لاندې استاذانو ته هم د **مخصوص** شرطونو سره د میډیکل سهولت هم ورکولے شي.

**(4): د طالبِ علمانو د صلاحیتونو اندازه اخستل او تقسیم کاري:** د طالبِ علمانو د صلاحیت پهٔ اعتبار سره پهٔ کار کښې د لګولو په لړ کښې که وګورئ نو د جامعة الـمدینه نه د فارغُ التَّحصیل کیدو نه پس که ”**مَدَني**“[1] د تدریس اهل او خواهش لري نو تدریسي کورس کولے شي او مدرس جوړولے شي. د مفتي جوړیدو پهٔ صلاحیت لرونکي مَدَني باندې تَخَصُّص فِي الفِقه او د هغې نه پس تدریب (یعنې د فتوې لیکلو مشق) کولے شي د دې سره سره پهٔ ټولو مرحلو کښې د کامیابۍ نه پس پهٔ **دارُ الافتاء اَهلِ سُنَّت** کښې د خپلو فریضو ترسره کولو موقع ورکولے شي. د عِلمِ حدیث شوق لرونکي مَدَني ته د تخصص فِي الحَدِیث موقع ورکولے شي. مَدَني عالِمانو ته انګلش، عربي، چائنیز وغیره (مختلفې ژبې) ښودلے شي او د ضرورت مطابق مختلفو ملکونو ته د تدریس او د نیکۍ د دعوت ورکولو د پاره لیږلے شي. د دې نه علاوه پهٔ دعوتِ اِسلامي کښې د تصنیف او تالیف یوه تحقیقي شعبه پهٔ نوم د ”الـمدینة الـعلمیة (Islamic Research Centre)“ هم موجود ده، د لیکلو شوق او صلاحیت لرونکي پهٔ دې شعبه کښې هم مقرر کولے شي.

**(5): ملک او بهر ملکونو ته د مبلغینو رسد:** اَلْحَمْدُلِلّٰه! مَدَني علمائے کرام د صلاحیت او ضرورت پهٔ لحاظ سره پاکستان او بهر ملکونو ته لیږلے شي چرته چې هغوئي د سُنَّتو نه ډکو بیانونو او د انفرادي کوشش وغیره پهٔ ذریعه د دِین د خدمت سعادت حاصلوي، دې د پاره پهٔ هغوئي باندې مختلف کورسونه هم کولے شي.

---

(1)--:د **جامعة المدینه** نه فارِغُ التَّحصیل شوو اِسلامي ورونړو ته ”مَدَني“ او اسلامی خوئیندو ته ”مَدَنیّه“ وئیلے شي.

**(6): كتابونه ليكل:** اَلْحَمْدُلِلّٰه! دې كار د پاره د دعوتِ اِسلامي شعبه ”الـمدينةُ الـعلميه (Islamic Research Centre)“ كار كوي، د دې شعبې دوه څانګې [برانچز] په كراچۍ كښې او يوه څانګه په فيصل آباد كښې جوړه كړے شوې ده. په كومو كښې چې په شريك طور د 150 نه زيات مَدَني علمائے كرام د تصنيف او تاليف، ترجمے او تخريج وغيره كار كوي. دې علمائے كرامو ته معقول تنخواه، د كال بونس او د شپږو مياشتو په بنياد د Leave Encashment وركولو كوشش كولے شي. تر دې ليكلو پورې د دې مَدَني علمائے كرامو په كوشش سره 934 ته نزدې كتابونه او رسالے د دعوتِ اِسلامي خپرونكې ادارے مكـتبة الـمدينه نه په ښكلي انداز كښې چاپ كړے شوې دي او د خلقو د وړاندې دي خو د 850 نه زيات داسې كتابونه او رسالے دي كومې چې په كتابي شكل كښې چاپ شوې نه دي بلكې صرف د PDF شكل كښې د دعوتِ اِسلامي په ويب سائټ باندې آن لائن اپ لوډ شوي دي. د دې نه علاوه د دعوتِ اِسلامي يوه بله شعبه ”شعبه تراجم (Translation Department)“ ”مجلسِ تراجم“ هم ده چې د لاندې يې د الـمدينة الـعلميه او د اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه محمد الياس عطّار قادري دامت بركاتهم العاليه كتابونه او رسالے د ماهرينو د نګرانۍ لاندې د دُنيا په 37 ژبو كښې ترجمه كولے شي.

**(7): مفت كتابونه وركول:** چرته چې د كتابونو او رسالو عاشقانِ رسول ته د مفت رسولو تعلق دے نو اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې عظيم كار د پاره ”**مجلسِ تقسيمِ رسائل**“ جوړ كړے شوے دے كوم چې د عاشقانِ رسول د لنګرِ رسائل مد كښې وركړے شوې چنده استعمالوي او په زرګونو كتابونه او رسالے عاشقانِ رسول ته رسوي. د دې سره سره د دې شعبے لاندې ګڼ شمير علمائے اهلِ سُنَّت او نورو شخصياتو ته هم د مياشتې په بنياد

کتابونه او رسالے د تحفے پهٔ طور وړاندې کولے شي. د دې نه علاوه د دعوتِ اِسلامي د **مجلس آئي ټي** د لاندې د مکتبة المدینه چاپ کړے شوي کتابونه او رسالے د دعوتِ اِسلامي پهٔ ویب سائټ www.dawateislami.net باندې اپ لوډ کولے شي، د چرته نه چې دا مفت ډاؤن لوډ او پرنټ کیدے هم شي.

**(8): پهٔ ښارونو کښې د نګرانانو ټاکنه**: پهٔ ښار ښار کښې د نګران د ټاکنې د پاره پهٔ مَدَني ګل باندې عمل هم شوے دے. دې مقصد د پاره د دعوتِ اِسلامي تنظیمي سیټ اپ ډیر منظم دے. د دعوتِ اِسلامي دِیني کار پهٔ مختلفو سطحو باندې پهٔ مختلف انداز کښې پهٔ ډیرو شعبه جاتو کښې کیږي. نګرانان مقرر دي او باقاعده پهٔ مشورې سره دِیني کار کولے شي.

هم داسې پهٔ اِسلامي خوئیندو کښې هم د دِیني کار منظم کولو د پاره د مشتمل ”**عالمي مجلس مشاورت**“ لاندې د دوئي هم تنظیمي نیټ ورک جوړ کړے شوے دے او اِسلامي خوئیندې د شرعي پردے د پابندئ سره دِیني کار کوي. د دعوتِ اِسلامي د دُنیا د دې ټول سیټ اپ مضبوط ساتلو د پاره ”**مرکزي مجلسِ شوریٰ**“ قائمه ده. داسې بِلا مُبالغه پهٔ زرګونو ذِمه داران پهٔ خپله خپله سطح د دِیني کارونو د پاره کوشش کوي او مسلکِ اَهلِ سُنَّت و جماعت پهٔ غوره طریقه خپروي.

**(9): پهٔ دِیني شعبو کښې ټاکنه**: اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د لاندې د صلاحیت لرونکو مَدَني علمائے کرامو د نیکئ دعوت پهٔ ټوله دُنیا کښې د عام کولو پهٔ عظیم کار کښې د مصروفه ساتلو د پاره پهٔ مختلفو شعبو کښې د ټاکنې لړئ روانه ده.

**(10): د پرنټ میډیا استعمال**: د پرنټ میډیا او د الیکټرانک میډیا چې زمونږ پهٔ ژوند کښې کوم کردار دے

هغه د چا نه څهٔ پټ پناه نه دے. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د پرنټ ميډيا او اليکټرانک ميډيا دوارو پهٔ ذريعه **د رضا د فِکر** عام کولو کوشش کړے دے. د پرنټ ميډيا پهٔ ذريعه د اهلِ سُنَّت د عام کولو د پاره چې چرته د دعوتِ اِسلامي **مکـتبة الـمدينه** ډير کلونه مخکښې جوړه کړے شوې ده هلته پهٔ جنورۍ کال 2017ء مطابق ربيعُ الثّاني 1438 هجرۍ کښې **ماهنامه فيضانِ مدينه** هم شروع کړے شوه کومه چې د خپلو خوندورو او ګټه ورو مضامينو د رنګا رنګ او د خپل زړهٔ راښکونکي خاصيت له وجهې د اهلِ سُنَّت پهٔ عوامو کښې ډيره مشهوره شوه، اَلْحَمْدُ لِلّٰه! دا ميګزين پهٔ 7 ژبو **اُردو، انګلش، عربۍ، هندۍ، ګجراتۍ، بنګله او سندهۍ** کښې جاري کيږي. د دې نه علاوه د **مجلسِ آئي ټي** د لاندې مختلف مَدَني علمائے کرامو پهٔ ګڼ شمير موضوعاتو باندې مضامين (Articles) ليکي او د هفتې يا مياشتې پهٔ بنياد يــې د دعوتِ اِسلامي پهٔ ويب سائټ باندې اَپ لوډ کوي د چرته نه چې پهٔ ټوله دُنيا کښې عاشقانِ رسول د دې مُستندو او ګټه ورو مضامينو نه مفت فائده حاصلولے شي.

الله کريم دې دعوتِ اِسلامي ته ډيره ترقي ورعطا کړي او د رضا د تعليماتو د نورو رائج کولو او عام کولو توفيق دې ورعطا کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى الله عليه واٰله وسلَّم

## د معاشرے اِصلاح او د اميرِ اهلِسُنَّت سوچ

**مولانا طاهر عطّاري مَدَني**

د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم ”**دعوتِ اِسلامي**“ چې کله شروع شو نو د ټولو نه ورمبےچي کوم ديني کار شروع شو هغه د زيارت پهٔ ورځ کيدونکې هفته واره ”**د سُنَّتو ډکه اجتماع**“ وه. د دې اجتماع وخت د ”**ماښام نه پس**“ کيښودے شو نو د باني دعوتِ

اِسلامي، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري رضوي ضيائي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ خدمت کښې چا عرض وکړو چې د زيارت ورځ Working Day ده، عام طور محفلونه او جلسے وغيره د شپې ناوخته شروع کيږي لهٰذا د اجتماع وخت هم ناوخته پکار دے د پاره د دې چې خلق د کارروزګار نه فارغ شي او پهٔ آسانئ سره راتلے شي. پهٔ زړهٔ کښې ”د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح“ د عظيمې جذبے لرونکي مردِ قلندر اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ جواب کښې صرف دوه جملے وفرمائيلې کومې چې هم يو بهترين قائد او ليډر وئيلے شي. هغوئي وفرمائيل: ”**ما ته د خلقو سوچ بدلول دي، سړے هغه نه دے کوم چې پهٔ معاشره پسې روان شي بلکې سړے هغه دے معاشره چې پهٔ چا پسې روانه شي.**“ (د دې مقصد دا هم وو چې خلق به هفته واره د سُنتو ډکې اجتماع ته زر راځي نو زر به د اوده کيدو له وجهې اهم ترين فرض ”**د سحر نـمونځ**“ د جَمعې سره ادا کړے شي.)

چا څهٔ ښهٔ وئيلي دي:

ارادے جن کے پختہ ہوں نظر جن کی خدا پر ہو
تلاطم خیز موجوں سے وہ گھبرایا نہیں کرتے

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نباضِ اُمَّت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د معاشرے نه پهٔ ډيرو بدو ختمولو کښې خپل کردار د کاميابئ تر حده پورې ادا کړے دے.

يقيناً د قوم او ملت اهم ترينه سرمايه معمارِ قوم ”**ځلمي**“ دي. دعوتِ اِسلامي د لکونو **ځوانانو** نارينؤ او زنانؤ ژوند بدل کړے دے. د دِيني، معاشرتي او اخلاقي بے اعتدالو نه يـې د راويستو سره دوئي ته د قرآن او سُنَّت پهٔ لار د روانيدو ذهن ورکړو بلکې روان کړي يـې پرې دي. پهٔ معاشره کښې د دې طبقے 100 فيصده اِصلاح د معاشرے د دِيني، ملکي او اولسي ترقئ ذريعه ده. اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه چې ځلمو ته د سُنَّتو

ډک دِيني ماحول ورکړو نو د معاشرے خراب شوے فيشن ايبل، د ګناهونو پهٔ ډنډ کښې انښتي او پهٔ ډيرو جرمونو کښې ککړ ځلمي د سُنَّتو ښکاره نمونې جوړې شوې.

وئيلے کيږي چې که د زنانه اِصلاح وشي نو د نسلونو اِصلاح کيږي ځکه چې هم دغه زنانه به سبا پهٔ معاشره کښې مور جوړيږي، د سُنَّتو پهٔ لاره د رواني مور پهٔ غيږه کښې به لوئيدونکے اولاد د خپل مور پلار د ښخښنې د ذريعے جوړيدو سره سره د بوډا والي ملاتړ هم جوړيږي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه صرف د نارينؤ نهٔ بلکې د زنانؤ د اِصلاح د پاره هم ګامونه پورته کړي دي او د ښکلي دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي پهٔ ذريعه يې د زنانؤ د اِصلاح او د دِيني تربيت ګڼ شمير موقعې عطا کړې دي، د اِسلامي خوئيندو هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع، مدرسة الـمدينه بالغات، ماهنامه خواتين (ويب ايډيشن) وغيره هم د زنانؤ د اِصلاح مختلف شکلونه دي.

د ماشومانو د تربيت او د قرآنِ پاک د تعليم د پاره ”**مدرسة الـمدينه** “ (بوائز اينډ ګرلز) او د عالِم او د مفتي جوړونکي ادارې ”**جامعة الـمدينه** “ (بوائز اينډ ګرلز) جوړې کړے شوې دي. د دِيني او دنياوي تعليم [د دواړو پهٔ يو ځائے حاصلولو] مرکزونه د دارُ الـمدينه او د فيضان اسلامک سکولز پهٔ شکل کښې دي. پهٔ کور کښې د ماشومانو د اِصلاح د پاره ”**کِډز مَدَني چينل**“ جوړ کړے شوے دے پهٔ کوم کښې چې د مختلف کريکټرز پهٔ ذريعه د Animated کارټونانو ښودلو سره د ماشومانو صحيح راهنمائي کولے شي.

اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه دا ښکلے سوچ ورکړے دے چې معذوره ګسانو ته دې د ګونګي، کوڼ، ړوند، شَل ګوډ وئيلو پهٔ ځائے ښکلے او د ډاډګيرنې لفظ ”**سپيشل پرسن**“ ووئيلے شي. د معاشرے د حصې کيدلو باوجود د معاشرے د همدردئ او محبت نه محرومه طبقے ته د عاشقانِ رسول پهٔ دِيني ماحول کښې د نيکئ د دعوت ورکولو سره د

جومات لاره وښودلے شوه. د ګونګيانو او کڼو د پاره سائن لينګويج يعني د اشارو پۀ ژبه کښې د بلائنډ (يعني د نظر نه د محرومه کسانو) د پاره پۀ بريل کښې لټريچر ورکړے شوے دے.

چا رښتيا وئيلي دي چې ”ځواني بے وفا ده او بوډا والے وفادار دے“ ځکه چې ځواني زر تيريږي او بوډا والے د قبر کندې ته د کوزيدو پورې ملګرے وي. مشران حضرات چې پۀ کور کښې وي نو کله ځلمي ماشومان د دوئي نه تنګ وي او چې بهر وي نو د محلے والا خفه وي. اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دې مشرانو کسانو د پاره ”د مشرانو مَدَني چينل“ جوړ کړے شوے دے پۀ کوم کښې چې به دوئي ته د باقي پاتې ژوند خوشحاله تيرولو د پاره نُسخے بيانولے شي او د معاشرے د ناسور ”**د خوانبې او اينګور د جګړو**“ حل به هم وړاندې کولے شي.

د دروغو د عادت نه د نجات حاصلولو د پاره چې د رښتياؤ عادت جوړول پکار وي هم داسې د بدو علاج پۀ ښه والي کښې دے. اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه معاشره پۀ ديني او اولسي ترقۍ ليدل غواړي يقيناً هم دغه ترقي پۀ حقيقت کښې کاميابي ده کومه چې د دِينِ متين سره تړلې ده. چې کله خرابياني لرې شي نو ښه والے به پخپله راتلل شروع شي. مونږ ټولو ته هم پکار دي چې د ځان، د خپل کور والؤ او د معاشرے ښه جوړولو کښې خپل کردار ترسره کړو او د دعوتِ اِسلامي د طريقۀ کار مطابق د نيکۍ دعوت عام کړو.

د اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ورکړے شوي مقصد ” ما ته د ځان او د ټولې دُنيا د خلقو د اِصلاح کوشش کول دي“ نه واضحه ده چې د معاشرے د اِصلاح نه د هغوئي د توجه محور يو يا يو څو ملکونه نۀ بلکې ټوله دُنيا ده. د ټولې دُنيا نه د راپورته کيدونکو فتنو نه د اُمَّت د بچ کولو د پاره د هغوئي د سوچ مطابق دعوتِ اِسلامي پۀ وخت ډير شعبه جات شروع کړل کوم چې د اُمَّت بهترينه راهنمائي کوي. پۀ ”مَدَني مذاکره“ کښې د مختلفو ملکونو ماشومانو ته ” هر صحابيِ نبي جنتي جنتي“ نعرو لګولو سره تاسو ښه اندازه لګولے

شئ چې هغوئي د معاشرے د اِصلاح د پاره د ماشومانو تربيت ته ځومره اهميت ورکوي.

**الله** پاک دې د باني دعوتِ اِسلامي دې تنظيم ته ډيره ترقي ورعطا کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دعوتِ اِسلامي د ختمِ نبوت د عقيدے نه د خبرولو او د دې پهٔ تحفظ کښې کردار

**اويس يامين عطاري**

دا مسلمه عقيده او ايمان دے چې خوږ رسول حضرت مُحَمَّد مصطفٰے صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د **الله** پاک آخري نبي دے، د رسول الله صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ زمانه کښې يا د نبي کريم صلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه پس به تر قيامته پورې نوے نبي نه راځي. مسلمانان دې عقيدے ته ”د ختمِ نبوت عقيده“ وائي، د دې عقيدے د تبليغ او تحفظ د پاره صحابۀ کرامو رضی الله عنهم، تابعينِ عظام، مفسرينو او محدثينو، بزرګانِ دِين، علمائے کاملين او مبلغينو خپلې فريضې ترسره کړې دي او اِنۡ شَآءَ اللهُ الۡكَرِيۡم! وړاندې به يې هم ترسره کوي.

اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي هم پهٔ مختلف انداز مثلاً د بيانونو، فتوو، ليکلو، درس او تدريس، د مَدَني چينل د پروګرامونو، سوشل ميډيا، کورسونو او د نظم پهٔ شکل کښې ”د ختمِ نبوت“ د عقيدے نه د خبرولو او د تحفظ د پاره کوشش کوي. راځئ چې د دې يو څو مختلف اړخونه وګورو:

**بيانونه، مذاکرے او خبرې اترې:** د دعوتِ اِسلامي پهٔ هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع وغيره کښې پهٔ ”ختمِ نبوت“ باندې بيانونه کولے شي، د دې سره سره شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتۡ بَرَكَاتُهُمُ الۡعَالِيَه پهٔ ”مَدَني مذاکرو“ کښې پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې د کيدونکو سوالونو او جوابونو سره سره

د ”ختمِ نبوت“ په باره کښې د کيدونکو سوالونو جوابونه د عشق او محبت نه په ډک انداز کښې ورکوي او د ”ختمِ نبوت د عقيدے“ تحفظ فرمائي، په يوه مَدَني مذاکره کښې چې کله اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د قاديانيانو په باره کښې د يوې پوښتنې جواب ورکړو نو د هغې نه د متاثره کيدو سره يو قادياني د خپلې باطلې عقيدے نه توبه کړه او اِسلام يې قبول کړو. د دې سره سره چې کله د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ذِکرِ خير کولے شي يا د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم څۀ فرمان بيانولے شي نو هُغه وخت هم د **الله** پاک د آخري نبي، مکي مَدَني، مُحَمَّدِ عربي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يا د فرمانِ آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اهتمام کولے شي.

**فتوىٰ جات:** دارُ الافتاء اهلِ سُنَّت (دعوتِ اِسلامي) د ليکلو، زباني، فون کالز، اي ميل، واټس ايپ او په نورو ذريعو سره د مسلمانانو شرعي راهنمايي کښې مصروف دے، د دارُ الافتاء اهلِ سُنَّت مفتيان صاحبان هم د ختمِ نبوت د عقيدے سره د تعلق لرونکو سوالونو مثلاً ”قاديانيان څوک دي؟“، ”د قاديانيانو سره د تعلق لرونکو حکم“، ”د قاديانيانو سره په شريکه کاروبار کول څنګه دي؟“، ”د مسلمانانو د قاديانيانو نه مفت دوايانې اخستل څنګه دي؟“ او ”د قادياني نه علاج کول څنګه دي؟“ په باره کښې فتوې ورکوي او د ختمِ نبوت د عقيدے نه د خبرولو او د دې عقيدے د تحفظ کولو کوشش کوي.

**ليکل:** اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د عاشقانِ رسول دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي په ليکلي طور باندې هم د ختمِ نبوت د عقيدے نه خلق خبروي او تحفظ يې کوي، شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د ختمِ نبوت په موضوع باندې د 44 صفحو رساله په نوم د ”سب سے آخري نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم“ ليکلې ده، په کومه

کښې چې امیرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د رسولِ کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي پۀ کیدلو باندې د قرانِ کریم د آیت او تفسیر، ډېر حدیثونه او د هغې د شرحې نه دلیلونه، د صحابۀ کرامو او تابعینو ارشادات او د علمائے کاملین بیان کړے شوي واضحه جزئیات بیان کړي دي، هم دغه شان د ”ماهنامه فیضانِ مدینه“ پۀ مختلفو شمارو کښې هم د ختمِ نبوت د عقیدے پۀ باره کښې ګڼ شمیر مضامین مثلاً ”عمارت نبوت کی آخری اینٹ، خاتمُ النبین کا معنیٰ تفاسیر کی روشنی میں، شان ختمِ نبوت، ختمِ دورِ رسالت پہ لاکھوں سلام، ختمِ نبوت احادیث کی روشنی میں، آخری نبی اور آخری اُمت، عقیدۀ ختم نبوت اور صحابہ کرام کا کردار، تحفظ عقیدۀ ختمِ نبوت میں علما کا کردار، گوہ کی گواہی، مرزائی، احمدی اور قادیانی میں کیا فرق ہے؟، قادیانیوں کے ہتھکنڈے“ لیکلو سره د ختمِ نبوت د عقیدے ځوکیداي او تحفظ کولے شي.

عاشقانِ رسول 7 ستمبر د ”ختمِ نبوت د عقیدے د تحفظ د ورځې“ پۀ طور نمانځي، پۀ اصل کښې پۀ 7 ستمبر کال 1974ء د علمائے حق اهلِ سُنَّت د ډېرو کلونو د مسلسل محنت او د عاشقانِ رسول د زرګونو قربانو نه پس پاکستان کښې پۀ آئیني او قانوني طور باندې قادیانیان کافران وګرځولے شول، قادیانیان د دِین اِسلام او د پاکستان د آئین دواړو مطابق کافران دي او دوئي ته د یو اِسلامي علامت هم د دِین پۀ طور د استعمالولو اجازت نشته. پۀ ستمبر کال 2024ء کښې د دې عظیم الشاني فتحې 50 کاله پوره کیږي، د دې ګولډن جوبلي پۀ موقع باندې به هم د ”ماهنامه فیضانِ مدینه“ له خوا خصوصي شماره پۀ نوم ”سیرت خاتمُ النبین صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم“ خپرولے شي.

**درس او تدریس:** د دعوتِ اِسلامي د لاندې پۀ مدرسة المدینه، دارُ المدینه او

جامـعة الـمدينه کښې هم طالبِ علمانو ته استاذان صاحبان د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي کيدلو پهٔ باره کښې پهٔ مختلف انداز کښې بيانوي او ښائي. وړو هلکانو او جينکو ماشومانو ته د سوال او جواب پهٔ شکل کښې د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم آخري نبي کيدل يادولے شي، دغه شان د جامـعة الـمدينه طالب علمانو ته د عقيدو پهٔ موضوع باندې پهٔ ښودلے کيدونکو کتابونو کښې د ختمِ نبوت پهٔ باره کښې د عقيدو سره سره دليلونه هم ښودلے شي.

**مَدَني چينل او کِډز مَدَني چينل:** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي د لاندې د چليدونکي د دُنيا يواځني سل فيصده اِسلامي چينل ”مَدَني چينل“ پهٔ ذريعه هم د ختمِ نبوت د عقيدے د تحفظ د پاره کوششونه کولے شي، پهٔ مَدَني چينل باندې د ختمِ نبوت پهٔ باره کښې مختلف پروګرامونه کولے شي پهٔ کومو کښې چې مفتيان صاحبان، علمائے کرام او د دعوتِ اِسلامي مبلغين د ختمِ نبوت عقيده بيانوي، د ”کِډز مَدَني چينل“ پهٔ ذريعه هم پهٔ مختلف انداز سره مثلاً د بيانونو، سوال او جواب او د کارټونانو وغيره پهٔ ذريعه د رسولِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خاتمِ النبيين کيدل بيانولے شي.

**سوشل ميډيا (دعوتِ اِسلامي):** دعوتِ اِسلامي د اوسني وخت د تقاضو مطابق د سوشل ميډيا اکاؤنټس مثلاً پهٔ يوټيوب، فيس بُک، واټس ايپ ګروپس، ټوئيټر او انسټاګرام وغيره باندې هم شارټ کليپس او پوسټونه وغيره وائرل کوي او د ختمِ نبوت د عقيدے نه د خبرولو او د دې عقيدے د تحفظ د پاره خپلې فريضې ترسره کوي، د دې سره سره د دعوتِ اِسلامي ويب نيوز ”دعوتِ اِسلامی شب و روز“ هم د حضورِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د آخري نبي کيدلو پهٔ باره کښې د 40 حديثونو مجموعه پهٔ نوم د ”اربعينِ ختمِ نبوت“ (ويب ايډيشن) جاري کړې ده.

کورسز: د ختمِ نبوت د عقيدے نه د خبرولو او د دې عقيدے د تحفظ د پاره د فيضان آن لائن اکيډمي (دعوتِ اِسلامي) د لاندې پهٔ اِسلامي ورونړو او اِسلامي خوئيندو ”ختمِ نبوت کورس“ کولے شي.

نظم: شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري رضوي دامت برکاتهم العالیه د ختمِ نبوت پهٔ باره کښې يو کلام ”میٹھے مدینے میں بُلا، اے آخری نبی“ ليکلے دے او ”ختمِ نبوت سے متعلق 18 نعرے“ يې هم ليکلې دي.

مُحَمَّدِ مصطفٰے　　د ټولو آخِرى نبي

احمدِ مجتبٰی　　د ټولو آخِرى نبي

خوږو محترمو لوستونکو! تاسو هم د ختمِ نبوت پهٔ عقيده باندې د قائم اوسيدو بلکې د ختمِ نبوت د عقيدے نه د خبرولو او د دې عقيدے د تحفظ د پاره د عاشقانِ رسول د دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي سره خپل تړون مضبوط کړئ او خپل اهم کردار ترسره کړئ. الله کريم دې مونږ ته د ختمِ نبوت د عقيدے د تحفظ کولو توفيق راعطا کړي.

اٰمین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلَّم

بعد آپ کے ہرگز نہ آئے گا نبی نیا

وَاللہ! اِیمان ہے مرا، اے آخری نبی

## د اِسلام قبلوونکو د پاره د دعوتِ اِسلامي اقدامات

آصف اقبال مَدَني

اِسلام آفاقي دِين دے، دا د رحمتونو والا، د برکتونو والا، د اعلیٰ اخلاقي قدرونو والا، د بهترين معاشي او معاشرتي اصولو والا، د آسانو احکامو والا، مظلومانو ته د انصاف ورکولو

والا، د ظلم زور نه د نجات ورکولو والا، د طبقو تقسيم ختمولو والا، د غريبۍ او د مالدارۍ فرق ختمولو والا، د مساواتو درس ورکولو والا او د بے شميره خوبيانو والا دِين دے. هم دا وجه ده چې د اِسلامي تعليماتو نه د متاثره کيدو سره پهٔ لکونو کروړونو غير مسلمو اِسلام قبول کړو او د امن ورکوونکي مقدس دِين پهٔ پناه کښې راغلل.

د غيرو خلقو اِسلام ته د راوستلو لويه وجه پهٔ هر دور کښې د مخلص مبلغينو له وجهې ممکن شوې ده، چا چې د خپل مال ځان پهٔ بازۍ دا پيغام عام کړو، شپه ورځ يې د دې پهٔ تبليغ کښې ولګول، چا پهٔ جهاد کولو، چا پهٔ هجرت کولو، چا د قرآنِ پاک د آيتونو پهٔ اوررولو، چا د رحمتِ عالم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د اعلیٰ اوصافو او د نبوي تعليماتو پهٔ رسولو، چا پهٔ حديث او فقه او پهٔ تصوف باندې د کتابونو ليکلو سره او چا د جوماتونو او د مدرسو پهٔ شکل کښې د اِسلامي مرکزونو جوړولو سره د دې چمن پالنه وکړه او غير مسلمو ته يې د حکمت او تدبير او ښه نصيحت سره د دِين دعوت ورسولو او څوک چې **الله** پاک وغوښتل پهٔ دې ذريعه يې ورته د ايمان دولت عطا کړلو.

پهٔ اوسني وخت کښې د قرآن او د سُنَّت پيغام عام کوونکي د مسلمانانو د ټولو نه لوئي دِيني تنظيم دعوتِ اِسلامي هم غير مسلمو ته پهٔ ډير ښکلي انداز او حکمت سره د اِسلام دعوت ورکولو کښې وړاندې وړاندې دے. د دعوتِ اِسلامي د باني، اميرِ اهلِسُنَّت حضرت علّامه مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه تربيت يافته مبلغين يواځې پهٔ خُله نهٔ بلکې د خپل کردار او عمل پهٔ ذريعه هم تبليغ کوي. د افريقے پهٔ يو ملک ملاوي کښې د دعوتِ اِسلامي د يو مبلغ پهٔ ذريعه اوسه پورې د څلورو زرو نه زيات خلق اِسلام ته داخل شوي دي، د نيو مسلم کورس پهٔ ذريعه د دوئي د دِيني تربيت اهتمام کولے شي بلکې د مدارسُ الـمدينه پهٔ ذريعه دوئي ته قرآنِ پاک لوستل هم ښودلے شي. تير کال

د نګرانِ شورىٰ مولانا حاجي محمد عمران عطاري د ملاوي پهٔ سفر کښې هم پهٔ يوه اجتماع کښې د 1100 نه زياتو خلقو کلمه ووئيله او دِين اِسلام يـې قبول کړو. هم دغه شان پهٔ ټوله دُنيا کښې د اِسلام پيغام رسولو کښې پوره کوششونه کولے شي، که علمائے کرام دي او که نور مبلغين هم ټول د غير مسلمو اِسلام ته د راوستلو د پاره پوره کوشش کوي. هره ورځ دا زيرې ميلاويږي چې پهٔ فلانکي ملک کښې چا اِسلام قبول کړو يا د فلانکي قوم دومره دومره خلقو پهٔ يو ځائے اِسلام قبول کړو او د خپل باطِل مذهب نه يـې توبه کړله. بعضې وخت پهٔ سوونو خلقو پهٔ يو ځائے د کلمې لوستلو سره دِين حق اِختيار کړو، پهٔ دوئي کښې بعضې کرسچن مذهبي مشران هم شامل دي تر دې پورې چې د دوئي يو مذهبي مشر د اِسلام قبلولو نه پس درسِ نظامي (عالِم کورس) هم وکړو. فَالْحمدُ لِلّٰهِ ربِّ الْعٰلَمِين!

د نوو مسلمان شوو د دِيني، اخلاقي او شرعي تربيت او د دې سره سره د مشاورت (Counseling) د پاره پهٔ دعوتِ اِسلامي کښې پوره نظام موجود دے. د دې دِيني تنظيم مرکزي مجلسِ شورىٰ نګران حضرت مولانا حاجي عمران عطاري خپل ”فرياد“ نومي مضمون کښې ليکي: تر اوسه پورې چې څومره هم غير مسلمو اِسلام قبول کړے دے الله پاک دې د هغوئي او زمونږ د ټولو ايمان سلامت وساتي، چې دا خلق د اِسلام قبلولو نه پس پهٔ ازميښونو کښې اخته نشي يا پهٔ شيطاني وسوسو کښې اخته نه شي او واپس لاړ نشي، دې د پاره دعوتِ اِسلامي باقاعده د دِيني تعليم اهتمام کړے دے، د دعوتِ اِسلامي يوه پوره شعبه ”فيضانِ اِسلام“ پهٔ دې باندې کار کوي، د پاکستان نه علاوه د دې شعبے نوم ”Welcome to Islam“ دے، نوو مسلمان شوو ته باقاعده دعوت ورکولے شي او

د هغوئي نه وخت اخستے شي او هغوئي ته کورس کولے شي پهٔ کوم کښې چې هغوئي ته د اِسلام ضروري او بنيادي خبرې بيانولے او ښودلے شي، پهٔ دې وخت کښې هغوئي ته د هاسټل سهولت Hostel Facility ورکولو سره سره د هغوئي د مفت اوسيدو او د خوراک څښاک مفت بندوبست کولے شي. او دا هم ډېر اهم کار دے کوم چې دعوتِ اِسلامي کوي، ځکه چې تاسو به هم اوريدلي وي چې فلانکي اِسلام قبول کړو خو وروستو څهٔ وشول؟ بيا د اِسلام قبلولو نه پس خدائے دې نه کړي که چرې هغهٔ خپل پخوانے باطل مذهب اختيار کړي نو بيا خو به پهٔ هغهٔ باندې د مرتد احکام لګي، لهٰذا د **اللّٰه** پاک پهٔ رحمت سره د دعوتِ اِسلامي ذِمه داران پهٔ دې لړ کښې ډېر حساس (Sensitive) دي. (ماہنامہ فیضان مدینہ، ستمبر2022ء)

**د اِسلام قبلوونکو د پاره د عقيدو او د دِين د تعليماتو اهتمام:** اَلْحَمْدُلِلّٰه! د دعوتِ اِسلامي پهٔ ماحول کښې نوي مسلمانان شوي د اِسلام قبلولو نه پس دعِلمِ دِين پهٔ لحاظ سره بے اسرې نه پريښودے کيږي بلکې د مختلفو دِيني کورسونو پهٔ ذريعه ورته باقاعده طور عقيدے او عِلمِ دِين ښودلے کيږي، د دې لړۍ يوه کړۍ ”نيو مسلم کورس“ دے، دا کورس د 7 ورځو هم وي او د 72 ورځو هم، د دې د هرې ورځې وخت 6 ګينټې دے، پهٔ دې کښې دوئي ته د اودس او طهارت، قاعدے، د نمونځ د ذکرونو، د نمونځ د عملي طريقو، د نمونځ د احکامو، د دِين د ښه خصلتونو، عبادتونو او د اِسلامي عقيدو تعليم ورکولے شي.

- پهٔ ايمانياتو کښې خاص طور د ايمان، شرک او کفر تعريف او پهٔ ايمان او کفر کښې پهٔ فرق تفصيلي رڼا اچولے شي.
- پهٔ اِسلامي عقيدو کښې خاص طور د **اللّٰه** پاک پهٔ ذات باندې ايمان د دې سره سره پهٔ فرښتو، اسماني کتابونو، انبيائے کرامو او رسولانو، قيامت، تقدير او د مرګ نه پس پهٔ راپورته کولو باندې د ايمان تفصيل ښودلے شي، ورسره ورسره د پيريانو، عذابِ قبر، حساب

او کتاب، جنَّت او دوزخ او د برزخ په باره کښې د اِسلامي عقيدو نه خبروولے شي.

❁ په طهارت کښې خاص طور د اودس، غسل طريقه او ضروري مسئلې، تيمم، د جامو پاکولو طريقه، د استعماليدونکو اوبو اهمې مسئلې، د اِستنجا طريقه او د حيض او نفاس دِيني معلومات په نصاب کښې شامل دي.

❁ په عبادتونو کښې خاص طور د نـمونځ، روژې، حج، زکوٰة وغيره بيان، اولنۍ شلور کلمے، ايمانِ مفصل او ايمانِ مجمل او د سورۀ اِخلاص د ترجمے سره سره يادول وغيره په نصاب کښې شامل دي.

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! نوو مسلمان شوو اِسلامي ورونړو ته د دې تعليمي ترون د ډيرو دِيني او دنيائي فائدو سره سره يوه ډيره زبردسته فائده دا هم حاصليږي چې هغوئي مستقل طور د دِيني ماحول سره عادت شي او هم د نيکو نه د ډک ماحول خوندونه حاصلوي، هم دا وجه ده چې د دعوتِ اِسلامي د دِيني ماحول په ذريعه د اِسلام د قبلولو سعادت حاصلوونکي تر ډيرې مودې پورې د دِيني ماحول سره د ترون ساتلو سره سره د عِلم او عمل په ميدان کښې په ترقۍ او د دِين په خپرولو کښې مصروف دي. راځئ چې د دې يو څو مثالونه وګورو:

❁ په کال 2008ء کښې اِسلام قبلوونکي محمد حامد رضا په جامـعة الـمدينه کښې داخله واخستله او په اکتوبر کال 2022ء کښې يـې عالم کورس مکمل کړو او تر دې ليکلو پورې د تدريس يعنې عالم کورس ښودلو فريضې ترسره کوي.

❁ په کال 2013ء کښې اِسلام قبلوونکي عبد الله په کال 2022ء کښې د 7 ورځو د فيضانِ نماز کورس سعادت حاصل کړو، په کال 2023ء کښې يـې د يوې مياشتې اعتکاف هم وکړو او د آخري معلوماتو مطابق امامت کورس کوي.

❁په کال 2022ء کښې اِسلام قبلوونکي يو اِسلامي وروړ د چا نوم چې **محمد** بلال کيښودے شو، پهٔ دسمبر کال 2022ء کښې د 63 ورځو مَدَني تربيتي کورس وکړو، د 7 ورځو فيضان نماز کورس يې وکړو، پهٔ جولائي کال 2023ء کښې يې د يوې مياشتې مَدَني قافله کښې د سفر سعادت حاصل کړو او د آخري اطلاعاتو مطابق د 7 مياشتو قاعده او ناظره کورس کوي.

❁پهٔ کال 2012ء کښې اِسلام قبلوونکي د يو اِسلامي وروړ نوم **محمد** فاروق کيښودے شو، هغوئي پهٔ جنورئ کال 2023ء کښې د 63 ورځو د مَدَني تربيتي کورس سعادت حاصل کړو، دا د کهورواه ښار، ضلع بدين، سندهـ کښې د نيو مسلم آبادئ ذِمه دار جوړ شوے دے.

❁پهٔ کال 2016ء کښې اِسلام قبلوونکي **محمد** اسماعيل پهٔ جنورئ کال 2023ء کښې د 63 ورځو د مَدَني تربيتي کورس سعادت حاصل کړو او هم پهٔ دغه کال يې د يوې مياشتې اعتکاف هم وکړو، دا هم پهٔ کهورواه ښار، ضلع بدين، سندهـ کښې د نيو مسلم آبادئ ذمه دار دے.

دا يو څو مثالونه دا خبره واضحه کوي چې د دعوتِ اِسلامي پهٔ دِيني ماحول کښې غير مسلمه اِسلام ته د راوستلو نه پس د هغوئي ديني تعمير ته خصوصي توجه کولے شي.

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا ډير لوئي کار دے چې چا غير مسلمه ته د اِسلام دعوت ورکړے شي، هغهٔ ته کلمه ووئيلے شي او د هغهٔ خاتمه پهٔ ايمان باندې وشي. سيدي شيخ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډير ځل داسې تذکرے فرمائيلې دي چې د انسانانو د ټولو نه لوئي خدمت د هغوئي مسلمانول دي د پاره د دې چې هغوئي د دُنيا سره سره پهٔ آخرت کښې هم کاميابي حاصله کړے شي. که د امن حالت به وو او

که د جنګ موقع به وه د **الله** پاک د آخري نبي، **مُحَمَّدِ** عربي صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وړومبی ترجيح به هم دا وه چې غير مسلمه ايمان راوړي، اِسلام ته داخل شي. د غزوهٔ خيبر پهٔ موقع باندې چې کله رسولِ پاک صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم حضرت **عَلِیُّ الْمُرْتَضٰی** رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہ ته جنډا عطا کړله نو هغوئي عرض وکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم! آيا زهٔ د کافرانو سره تر هُغه وخته پورې قتال [جنګ] وکړم تر څو پورې چې هغوئي زمونږ پهٔ مثل (مسلمانان) نشي؟ نو رسول الله صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغوئي ته وفرمائيل: ”پهٔ نرمۍ سره لاړ شهٔ تر دې پورې چې تهٔ د هغوئي ميدان ته کوز شې، بيا هغوئي ته د اِسلام دعوت ورکړه او د **الله** پاک د طرف نه چې کوم حقونه پهٔ هغوئي باندې عائد کيږي د هغې پهٔ باره کښې هغوئي خبر کړه، پهٔ خدائے مې دې قَسم وي! که الله کريم ستا پهٔ وجه يو کَس ته هم هدايت وکړي نو دا ستا د پاره د سرو اوښانو نه بهتر ده.“ (مسلم، ص 1311، حديث:2406- بخاری، 85/3، حديث:5210) يعنې مقصد د هغوئي ختمول نهٔ بلکې د هغوئي خير او پهٔ آخرت کښې د کاميابۍ د پاره د هغوئي هدايت دے.

د صحيح بخاري شريف پهٔ شرحِ فيوضُ الباري، جلد 12، صفحه 371 باندې پهٔ دې باره کښې چې کوم تفصيل دے د هغې خلاصه دا ده: د جمهور فقهائے اِسلام مذهب دا دے چې د کافرانو سره د جهاد کولو نه مخکښې هغوئي ته د اِسلام دعوت ورکول واجب دي او که هغوئي ته د وړاندې نه د اِسلام دعوت ورکړے شوے وي  نو د جنګ نه مخکښې بيا د اِسلام دعوت ورکول مستحب دي. ملک العلماء علّامه کاشاني رَحْمَةُ اللّٰہِ عَلَیْہ ليکلي دي چې که چرې کافرانو ته مخکښې د اِسلام دعوت نه وو رسيدلے نو پهٔ مسلمانانو باندې لازم دي چې هغوئي پهٔ خُله باندې هغوئي ته د اِسلام دعوت ورکړي. **الله** پاک

فرمائي: ﴿اُدْعُ اِلٰى سَبِيْلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِيْ هِيَ اَحْسَنُ﴾

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: د خپل رب لارې طرف ته په حِکمت او په ښه نصيحت بلنه وکړه او هغوئي سره په هغه طريقه بحث وکړه کومه چې ښه وي.(پ14، النحل:125)

يعني که د هغوئي څۀ شک شبه وي نو هغه ختم کړئ د پاره د دې چې حجت تمام شي د دې سره سره د جهاد مقصد د کافرانو وژل نه دي بلکې جهاد د اِسلام د دعوت له وجهې فرض دے. که هغه په تبليغ باندې اِسلام قبول کړي نو د هغې نه نور بهتر څۀ دي؟ په زيرِ بحث حديث کښې د حضور نبي پاک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دا ارشاد چې ”که چرې ستا په ذريعه يو کَس ته هدايت وشي هغۀ ستا د پاره د سرو اوښانو نه بهتره ده.“ هم د دې امر آئينه دار دے.

د **الله** ربُّ العِزّت په بارګاه کښې دُعا ده چې د دعوتِ اِسلامي په ذريعه دې د اِسلام فيضان جاري اوسي او **الله** پاک دې دا قائم لري. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم


## د شیخ طریقت امیرِ اهلِ سُنّت حضرتِ علامه مولانا
## ابو بلال محمد اِلیاس عطّار قادري رَضَوي دامت برکاتہم العالیہ اهم پیغام

د جامعۃُ المدینه، مدارسُ المدینه او دارالمدینه استاذانو او شاګردانو زما ټولو مدني خامنو او مدني لوڼو! په "**ماهنامه فیضانِ مدینه**" کښې د ډیرو ښکلو معلوماتو خزانه وي. زما خواهش دے چې زما هر مدني خوئي او مدني لور بلکې هر هر دعوت اسلامي والا د "**ماهنامه فیضانِ مدینه**" سالانه بکنګ کوي.

یا ربَّ المُصطفٰی صلی اللہ علیہ وسلم! زما کوم مدني خوئي او مدني لور چې د خپل ځان د پاره یا په انفرادي کوشش کولو د نورو د پاره د "**ماهنامه فیضـــانِ مدینه**" بکنګ وکړي هغه ته د دین او دنیا کامیابۍ ورکړې او په پل صراط باندې تیریدلو کښې اسانې ورنصیب کړې.

اٰمِیْن بِجَاہِ النَّبِیِّ الْاَمِیْن صلی اللہ تعالٰی علیہ واٰلہٖ وسلم

په ټوله دنیا کښې د دین په خدمت کښې د مصروف دیني تنظیم دعوت اسلامي آفیشل میګزین "ماهنامه فیضانِ مدینه"



د لویو او وړو او زنانو او تقـــریباً د ژوند د هـــرې طبقے د خلقو د پاره علمي، تحقیقي د 35 نه زیاتو ښکلو مضـامین باندې مشتمله، په 7 ژبو (اردو، انګلش، عـــربي، هندي، ګجراتي، سندهي او بنګله) کښـــې جارې کیدونکې شماره

د بکنګ د معلومات او شکایاتو د پاره: **Call/Sms/Whatsapp +923131139278**

**Email: mahnama@maktabatulmadinah.com**

978-969-722-707-5
فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی، باب المدینہ (کراچی)
UAN: +92 21 111 25 26 92 Ext: 2650 / 1144
Web: www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net
Email: feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net